امین بسمل


۲۰.۰۳.۱۰

## که ته نه يې بهاره



له هر قدم دي جار شم راوره راوره سره گلونه

سپرليه گرم گرم راځه مات کړه کنګلونه

پوهيږم چې ته راشي سپيرې دښتې کړې سمسورې

نسکور شي ځړ بدرنګ تصوير ور وشيندې رنګونه

هغه خو اخترونه دي  چې تش جېبونه ګرزي

یو نوم یې پاتې  شوی پکې نشته  څه خیرونه

دا ستا په راتګ هیڅوک سترګې نه شي پټولای

رنګینې جامې راوړې  ښایسته کړې سم او غرونه

ساقي سورسترګی هم درسره مل وي ګل او مول هم

رندان ګرزي برلاسه زاهدان غواړي کونجونه

افسوس چې نابللي  تا زموږ په وینو سور کړي

پلمې کړي په پلمو پسې راسوځي بهارونه

که ته نه یې  بهاره نه به ګل نه به ګلزار وي

هیڅوک به هم وانه وري دبلبلو اوازونه

هغه چې په اورونو تا لمانځي ملامت نه دي

دمیني مشعل بل ساتي له تا اخلي خوندونه

بهار اویار چې دواړه دچا مله شي بختور وي

صحبا له خوږوشونډو له ګل بوټو نه عطرونه

بسمله دا ته هم په پسرلیو کې سپرلی شي

را واخلې رباب څنګ ته یادوې می او جامونه